# د افغانستان اسلامي امارت

# د عدلیې وزارت

**دځمکو دغصب دمخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد د کمېسیون د دندو او واکونو لایحه**

**لایحه وظایف و صلاحیت های کمیسیون جلوگیری ازغصب زمین‌ها و استرداد زمین های غصب شده**

**طبع: به اهتمام وزارت عدلیه**

**نام کتاب: لایحه وظایف و صلاحیت های کمیسیون جلوگیری ازغصب زمین ها و استرداد زمین های غصب شده**

**تعداد صفحات بشمول پشتی: ( ۱۸ ) صفحه**

**تیراژ چاپ: ( ۱۰۰۰ ) جلد**

**قیمت فی جلد به طور پرچون: ( ۲۰ ) افغانی**

**مطبعه چاپ کننده: ( انس )**

**ویب سایت: www.moj.gov.af**

**آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، ناحیه ششم- غرب قصر دارالامان.**

**د ځمکو د غصب د مخنيوي او غصب شويو ځمکو د استرداد دکمېسيون دلايحې د انفاذ په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله حکم**

**ګڼه: (٦٩٦)**

نېټه: ٧/ ٣/ ١۴۴۴هـ.ق

مطابق ١١/ ٧/ ١۴٠١ هـ.ش

د ځمکو د غصب د مخنيوي او غصب شويو ځمکو د استرداد د کمېسيون لايحه په (٩) مادوکې منظوروم.

**والسلام**

**اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث**

**مولوي هبة الله اخندزاده**

**حکم**

**عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله در مورد انفاذ لايحه کميسيون جلوگيری از غصب زمين ها و استرداد زمين های غصب شده**

**شماره: (٦٩٦)**

تاريخ: ٧/ ٣/ ١۴۴۴هـ.ق

مطابق ١١/ ٧/ ١۴٠١ هـ.ش

لايحه کميسيون جلوگيری از غصب زمين ها و استرداد زمين های غصب شده را در (٩) ماده منظور می نمايم.

**والسلام**

**اميرالمؤمنين شيخ القرآن و الحديث**

**مولوی هبة الله اخندزاده**

## د ځمکو د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد د کمېسیون د دندو او واکونو دلایحي نوملړ


| ماده | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| لومړۍ ماده: | موخې | ۳ |
| دوه یمه ماده: | د کمېسیون ترکیب | ۳ |
| درېیمه ماده: | د تخنیکي هیئت ترکیب | ۵ |
| څلورمه ماده: | د کمېسیون دندې او واکونه | ۷ |
| پنځمه ماده: | د تخنیکي هیئت دندې او واکونه | ۹ |
| شپږمه ماده: | د پولیسو د خاصې قطعې رامنځته کول | ۱۱ |
| اوومه ماده: | له کمېسیون او تخنیکي هیئت سره همکاري | ۱۲ |
| اتمه ماده: | د کړنلارو ترتیب | ۱۳ |
| نهمه ماده: | د تطبیق نېټه | ۱۳ |

## د ځمکو د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد د کمېسیون د دندو او واکونو لایحه

### موخې

**لومړۍ ماده:**

دغه لایحه د لاندې موخو د تحقق په منظور ترتیب شوې ده:

۱- د ځمکو د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد د کمېسیون د دندو او واکونو تنظیم.

۲- د ځمکو د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د تشخیص او تثبیت د تخنیکي هیئتونو د ترکیب، دندو او واکونو تنظیم.

### د کمېسیون ترکیب

**دوه یمه ماده:**

(۱) د ځمکو د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد د کمېسیون ترکیب په لاندې ډول دی:

## لایحه وظایف و صلاحیت های کمیسیون جلوگیری از غصب زمین ها و استرداد زمین های غصب شده

### اهداف

**مادۀ اول:**

این لایحه به منظور تحقق اهداف ذیل ترتیب شده است:

۱- تنظیم وظایف و صلاحیت های کمیسیون جلوگیری از غصب زمین ها و استرداد زمین های غصب شده.

۲- تنظیم ترکیب، وظایف و صلاحیت های هیئت های تخنیکی جلوگیری از غصب زمین ها تشخیص و تثبیت زمین های غصب شده.

### ترکیب کمیسیون

**مادۀ دوم:**

(۱) ترکیب کمیسیون جلوگیری از غصب زمین ها و استرداد زمین های غصب شده به صورت ذیل است:

۱- د عدلیې وزیر د کمېسیون د رئیس په توګه.
۲- د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزیر د غړي په توګه.
۳- د ښار جوړولو وزیر د غړي په توګه.
۴- د کار او ټولنیزو چارو وزیر د غړي په توګه.
۵- لوی څارنوال د غړي په توګه.

(۲) د ځمکو د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استردادکمېسیون په دې لایحه کې له دې وروسته د کمېسیون په نامه یادېږي.

(۳) د سترې محکمې د دارالانشاء رئیس او د افغانستان اسلامي امارت د چارو د ادارې عمومي رئیس مکلف دي، له کمېسیون سره د محوله چارو په ترسره کولو کې هر اړخیزه همکاري وکړي.

(۴) د کمېسیون سکرتریت د عدلیې وزارت د امارت د قضایاوو د عمومي ریاست پر غاړه دی.

۱- وزیر عدلیه به حیث رئیس کمیسیون.
۲- وزیر زراعت، آبیاری و مالداری به حیث عضو.
۳- وزیر شهرسازی به حیث عضو.
۴- وزیر کار و امور اجتماعی به حیث عضو.
۵- لوی څارنوال به حیث عضو.

(۲) کمیسیون غصب زمین ها و استرداد زمین های غصب شده در این لایحه منبعد به نام کمیسیون یاد می شود.

(۳) رئیس دارالانشاء ستره محکمه و رئیس عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان مکلف اند، در انجام امور سپرده شده با کمیسیون همکاری همه جانبه نمایند.

(۴) سکرتریت کمیسیون به عهده ریاست عمومی قضایای امارت وزارت عدلیه است.

## د تخنیکي هیئت ترکیب

**درېیمه ماده:**

(۱) په مرکز او ولایتونو کې د ځمکو د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د تشخیص او تثبیت تخنیکي هیئت، په لاندې ترکیب جوړېږي:

۱- د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رئیس د رئیس په توګه.

۲- په مرکز کې د امارت د قضایاوو اداري عمومي رئیس او په ولایتونو کې د عدلیې رئیس د غړي په توګه.

۳- د ښارجوړولو رئیس د غړي په توګه.

۴- د کار او ټولنیزو چارو رئیس د غړي په توګه.

۵- د ارشاد، حج او اوقافو رئیس د غړي په توګه.

۶- د څارنوالۍ رئیس د غړي په توګه.

۷- د امنیې قوماندانۍ مرستیال د غړي په توګه.

۸- اړوند ښاروال د غړي په توګه.

## ترکیب هیئت تخنیکی

**مادهٔ سوم:**

(۱) هیئت های تخنیکی جلوگیری از غصب زمین ها تشخیص و تثبیت زمین های غصب شده در مرکز و ولایات، به ترکیب ذیل ایجاد می گردد:

۱- رئیس زراعت، آبیاری و مالداری به حیث رئیس.

۲- رئیس عمومی اداره قضایای امارت در مرکز و رئیس عدلیه در ولایات به حیث عضو.

۳- رئیس شهرسازی به حیث عضو.

۴- رئیس کار و امور اجتماعی به حیث عضو.

۵- رئیس ارشاد، حج و اوقاف به حیث عضو.

۶- رئیس څارنوالی به حیث عضو.

۷- معاون قومندانی امنیه به حیث عضو.

۸- شاروال مربوطه به حیث عضو.

۹- د ولایت مستوفي د غړي په توګه.
۱۰- د اراضـــي اداري د کدســـتر د سروې مسوول د غړي په توګه.
۱۱- په مرکز کې د کابل ولایـــت د امارت د قضایاوو رئیس او پـــه نـــورو ولایتونو کې د عدلیې ریاست د امارت د قضایاوو آمر د غړي او منشـــي پـــه توګه.
(۲) د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي غصب شویو ځمکو د تشخیص او تثبیت تخنیکي هیئتونه، په دې لایحه کې له دې څخه وروسته د تخنیکي هیئـــت په نامه یادېږي.
(۳) که چېرې د تخنیکي هیئت رئـــیس او یا د هغه غړی د دې لایحـــې د درج شویو دندو د اجراء کولو توان ونه لري او یا د هغو په اجراء کولو کې تعلـــل وکړي، کمېسیون کولای شي له احوالو سره سم د هغه د تبدیلی یا انفصال پـــه اړه تصمیم ونیسي، اړونده اداره مکلفه ده، د کمېسیون تصمیم تعمیل کړي.
(۴) په مرکز او ولایتونو کې د تخنیکي هیئت ســـکرتریت د عـــدلیې وزارت د

۹- مستوفی ولایت به حیث عضو.
۱۰- مسوول سروی کدســـتر اداره اراضی به حیث عضو.
۱۱- رئیس قضایای امـــارت ولایـــت کابـــل در مرکـــز و آمـــر قضـــایای امـــــارت ریاســـــت عدلیـــــه در ســـایر ولایـــات بـــه حیـــث عضـــو و منشی.
(۲) هیئت های تخنیکی تشـــخیص و تثبیت زمین های غصب شده امـــارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی، بعد از این در این لایحه به نام هیئت تخنیکی یاد می شود.
(۳) هر گاه رئیس هیئت تخنیکی و یـــا اعضای آن توان اجراء وظایف مندرج این لایحه را نداشته باشد و یا در اجراء آنها تعلل نمایند، کمیسیون می توانـــد حسب احوال در مـــورد تبـــدیلی یـــا انفصال وی تصمیم اتخاذ نماید. اداره مربوطه مکلف است، تصمیم کمیسیون را تعمیل نماید.
(۴) در مرکز و ولایـــات ســـکرتریت هیئت تخنیکی را اداره قضایای امارت

امارت د قضایاوو د ادارې پر غاړه دی.

## د کمېسیون دندې او واکونه

### څلورمه ماده:

(۱) کمېسیون، د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي غصب شویو ځمکو د استرداد په هکله لاندې دندې او واکونه لري:

۱- د تخنیکي هیئتونو او د امارت د قضایاوو د ادارې د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي غصب شویو ځمکو د اړوندو راپورونو مطالعه، ارزونه او په اړه یې تصمیم نیول.

۲- د تخنیکي هیئتونو او د امارت د قضایاوو د ادارې د موندنو پربنسټ د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي غصب شویو ځمکو له غصب څخه رامنځته شویو قضیو ته رسیدګي.

۳- د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي ځمکو د غصب په اړه له اشخاصو څخه د اطلاع اخیستل او د هغې بررسي.

۴- د عمل د پلان تأیید، تعدیل او یا رد

وزارت عدلیه بر عهده دارد.

## وظایف و صلاحیت های کمیسیون

### مادۀ چهارم:

(۱) کمیسیون، درمورد استرداد زمین های غصب شده امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی وظایف و صلاحیت های ذیل را دارد:

۱- مطالعه، ارزیابی و اتخاذ تصمیم در مورد گزارشات هیئت های تخنیکی و اداره قضایای امارت، مربوط به زمین های غصب شده امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی.

۲- رسیدگی به قضایای زمین های غصب شده امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی بر اساس یافته های هیئت های تخنیکی و اداره قضایای امارت.

۳- کسب اطلاع از نزد اشخاص در رابطه به غصب زمین های امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی و بررسی آنها.

۴- تأیید، تعدیل و یا رد پلان عمل که

چې د مرکز او ولايتونو د تخنيکي هيئتونو له خوا وړاندې کېږي.

(۲) کمېسيون، د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي ځمکو له غصب څخه د مخنيوي په برخه کې لاندې دندې او واکونه لري:

۱- د تخنيکي هيئتونو له تشخيص او تثبيت څخه وروسته، په امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي ځمکو کې د هر راز غير شرعي تصرف د درولو په اړه د امارت د قضاياوو ادارې ته د لارښونو صادرول.

۲- د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي ځمکو له غصب څخه د مخنيوي په منظور وزارتونو او امارتي ادارو ته د لارښوونو صادرول.

(۳) کمېسيون د دې مادې د (۱ او ۲) فقرو په درج شويو دندو او واکونو سربېره، لاندې دندې او واکونه هم لري:

۱- د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي غصب شويو ځمکو په اړوند د امارت د قضاياوو د ادارې او د اړوندو

در مرکز و ولايات از سوی هيئت های تخنيکی ارائه می گردد.

(۲) کميسيون، درمورد جلوگيری از غصب زمين های امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی وظايف و صلاحيت های ذيل را دارد:

۱- صدور هدايات به اداره قضايای امارت در مورد توقف هر نوع تصرف غير شرعی در زمين های امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی پس از تشخيص و تثبيت هيئت های تخنيکی،.

۲- صدور هدايات به وزارت ها و ادارات امارتی به منظور جلوگيری از غصب زمين های امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی.

(۳) کميسيون علاوه بر وظايف و صلاحيت های مندرج فقره های (۱ و۲) اين ماده، وظايف و صلاحيت های ذيل را نيز دارد:

۱- رسيدگی به مشکلات اداره قضايای امارت و ادارات مربوطه امارتی در رابطه با زمين های غصب شده

امارتي ادارو ستونزو ته رسیدګي.

۲- د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي غصب شویو ځمکو په اړه د امارت د قضایاوو د ادارې له لارې له وزارتونو او اړوندو امارتي ادارو څخه د معلوماتو غوښتل.

۳- د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي غصب شویو ځمکو د تشخیص لپاره له وزارتونو او اړوندو امارتي ادارو سره د تخنیکي هیئتونو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کول.

۴- عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله ته په ربعوار ډول د اړوندو اجراآتو راپور وړاندې کول.

(۴) کمېسیون دې د عامه مرعی د قضایاوو د څېړنو په هکله له عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله څخه هدایت اخلي.

## د تخنیکي هیئت دندې او واکونه

**پنځمه ماده:**

(۱) تخنیکي هیئت لاندې دندې او

امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی.

۲- خواستن معلومات از وزارت ها و ادارات مربوطه امارتی از طریق اداره قضایای امارت در رابطه با زمین های غصب شده امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی.

۳- ایجاد هماهنگی هیئت های تخنیکی با وزارت ها و ادارات مربوطه امارتی جهت تشخیص زمین های غصب شده امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی.

۴- ارائه گزارش در مورد اجراآت مربوطه بصورت ربع‌وار به عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله.

(۴) کمیسیون در مورد بررسی قضایای مرعی عامه از عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله هدایت می گیرد.

## وظایف و صلاحیت های هیئت تخنیکی

**مادهٔ پنجم:**

(۱) هیئت تخنیکی وظایف و

واکونه لري:
۱- د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي غصب شويو ځمکو د تشخيص او تثبيت د عمل د پلان ترتيبول او کمېسيون ته د هغه وړاندې کول.
۲- د رسمي شرعي سندونو له مخې، د اړوندو امارتي ادارو په همکارۍ د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي غصب شويو ځمکو تشخيص او تثبيت.
۳- په امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي غصب شويو ځمکو پورې د اړوندو رسمي شرعي سندونو راټولول او کمېسيون ته د هغو ارجاع.
۴- د تصميم نيونې په غرض کمېسيون ته د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي غصب شويو ځمکو د پېچلو قضيو ارجاع.
۵- د کمېسيون د تصميمونو پلي کول.
٦- کمېسيون ته له اړوندو اجراآتو څخه د راپور وړاندې کول.
۷- د هغو نورو دندو اجراء کول چې د کمېسيون له لوري محول کېږي.
(۲) تخنيکي هيئت مکلف دی، ددې

صلاحيت های ذيل را دارد:
۱- ترتيب پلان عمل تشخيص و تثبيت زمين های غصب شده امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی و ارائه آن به کميسيون.
۲- تشخيص و تثبيت زمين های غصب شده امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی مطابق اسناد شرعی رسمی به همکاری ادارات امارتی مربوطه.
۳- جمع آوری اسناد شرعی رسمی مربوط به زمين های غصب شده امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی و ارجاع آن به کميسيون.
۴- ارجاع قضايای پيچيده زمين های غصب شده امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی به کميسيون به غرض اخذ تصميم.
۵- تطبيق تصاميم کميسيون.
٦- ارائه گزارش از اجراآت مربوطه به کميسيون.
۷- اجرای ساير وظايف که از سوی کميسيون محول می گردد.
(۲) هيئت تخنيکی مکلف است، اسناد

مادې د (۱) فقرې په ۱ جزء کې درج شوی د عمل پلان د اړوندو سندونو او د هغو جدولونو په پام کې نیولو سره ترتیب کړي چې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له خوا وړاندې کېږي.

(۳) د تخنیکي هیئت د فعالیت ډول په هغې کړنلاره کې تنظیمېږي چې د کمېسیون له لوري ترتیبېږي.

## د پولیسو د خاصې قطعې رامنځته کول

**شپږمه ماده:**

(۱) د کورنیو چارو وزارت، د کمېسیون د تصمیمونو د تعمیل او د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي ځمکو له غصب څخه د مخنیوي په منظور، د پولیسو خاصه قطعه رامنځته کوي.

(۲) د پولیسو خاصه قطعه مکلفه ده، له تخنیکي هیئت او د امارت د قضایاوو له ادارې سره په همغږۍ کې، د کمېسیون تصمیمونه په لنډ وخت کې تعمیل کړي.

مربوطه پلان عمل مندرج جزء ۱ فقرهٔ (۱) این ماده را با در نظرداشت جداولی که توسط وزارت زراعت، آبیاری ومالداری ارائه می گردد ترتیب نماید.

(۳) طرز فعالیت هیئت تخنیکی در طرزالعملی که توسط کمیسیون ترتیب می شود تنظیم می گردد.

## ایجاد قطعه خاص پولیس

**مادهٔ ششم:**

(۱) وزارت امور داخله به منظور تعمیل تصامیم کمیسیون و جلوگیری از غصب زمین های امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی، قطعه خاص پولیس را ایجاد می نماید.

(۲) قطعه خاص پولیس مکلف است، در هماهنگی با هیئت تخنیکی و اداره قضایای امارت، تصامیم کمیسیون را به اسرع وقت تعمیل نماید.

(۳) د پولیسو خاصه قطعه مکلفه ده، په مرکز او ولایتونو کې د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي غصب شویو ځمکو په تشخیص، تثبیت او په نورو مواردو کې له اړوندو تخنیکي هیئتونو سره هر اړخیزه همکاري وکړي.

(۴) د پولیسو خاصه قطعه مکلفه ده، په هغو ځمکو کې چې د اړوند تخنیکي هیئت د تشخیص پربنسټ، امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي تثبیتې شوې وي، د هر راز تصرف د درولو په برخه کې، د واکمنې مرجع په واسطه د وروستني تصمیم تر نیولو پورې، د امارت د قضایاوو له ادارې سره هر اړخیزه همکاري وکړي.

## له کمېسیون او تخنیکي هیئت سره همکاري

**اوومه ماده:**

(۱) والي، ولسوال، او د وزارتونو او امارتي ادارو مسوولین مکلف دي، د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي

(۳) قطعه خاص پولیس مکلف است، در مرکز و ولایات در تشخیص و تثبیت زمین های غصب شده امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی و سایر موارد با هیئت های تخنیکی مربوطه همکاری همه جانبه نماید.

(۴) قطعه خاص پولیس مکلف است، در زمین هایی که به اساس تشخیص هیئت تخنیکی مربوطه، امارتی (سلطانی)، مرعی عامه و وقفی تثبیت شده باشد، در جلوگیری از هر گونه تصرف، تا اخذ تصمیم نهایی توسط مرجع با صلاحیت، با اداره قضایای امارت همکاری همه جانبه نماید.

## همکاری با کمیسیون و هیئت تخنیکی

**مادۀ هفتم:**

(۱) والی، ولسوال و مسوولین وزارت ها و ادارات امارتی مکلف اند، در مورد تشخیص و تثبیت زمین های

غصب شویو ځمکـــو د تشـــخیص او تثبیت په اړه، له کمېسیون او تخنیکـــي هیئت سره، هر اړخیزه همکاري وکړي.
(۲) که چېرې والي، ولسوال او یـــا د وزارتونو او امارتي ادارو مسوولین لـــه کمېسیون او تخنیکـــي هیئـــت ســـره همکاري ونه کړي، کمېسیون به هغوی ته توصیه کوي او د تکرار په صـــورت کې به د اســـلامي امـــارت مقـــام تـــه ورپېژندل کېږي.

## د کړنلارو ترتیب

**اتمه ماده:**

کمېسیون کولای شي، د دې لایحې د حکمونو د ښه تطبیق په منظور کړنلارې ترتیب کړي.

## د تطبیق نېټه

**نهمه ماده:**

دغه لایحه د منظورۍ له نېټې څخه نافذه ده.

غصب شده امارتی (سلطانی)، مرعـــی عامه و وقفی، با کمیســـیون و هیئـــت تخنیکی همکاری همه جانبه نمایند.
(۲) هرگـــاه والـــی، ولســـوال و یـــا مسوولین وزارت ها و ادارات امـــارتی باکمیسیون و هیئت تخنیکی همکـــاری نه نمایند، کمیسیون به آنهـــا توصـــیه مـــی نمایـــد و در صـــورت تکـــرار به مقـــام امـــارت اســـلامی معرفـــی می شود.

## ترتیب طرزالعمل ها

**مادۀ هشتم:**

کمیسیون می تواند، به منظور تطبیـــق بهتر احکام این لایحه طرزالعمل های را ترتیب نماید.

## تاریخ تطبیق

**مادۀ نهم:**

این لایحه از تـــاریخ منظـــوری نافـــذ می باشد.

**ISLAMIC EMIRATE OF AFGHANISTAN MINISTRY OF JUSTICE**

# Terms of Reference and Authorities of Commission for Prevention of Usurpation of Lands and Restitution of the Usurped Lands

**Published: By the Ministry of Justice**